❖❖❖

## د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان اړیکې: فرصتونه او ننګونې

محمد کوثر دولتزی*

***لنډیز***

*د افغانستان او پاکستان اړیکې د تاریخ په اوږدو کې له لوړو ژورو تېرې شوې دي. پر دغو دوه اړخیزو اړیکو د تاریخي شخړو، امنیتي ګواښونو او بهرنیو لوبغاړو د نفوذ اغېزې جوتې دي. سره له دې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ ګنې ستونزې شته دي؛ په ورته وخت کې د سوداګرۍ، انرژۍ پروژو، او د سیمه‌ییزې همکارۍ په نورو برخو کې د پرمختګ لپاره هم راز راز فرصتونه شته دي. په دې څېړنیزه مقاله کې په تشریحي او تحلیلي مېتود د افغانستان او پاکستان تر منځ پر اوسنیو او راتلونکو اړیکو بحث شوی او له ثانوي سرچینو لکه، کتابونو، څېړنیزو مقالو، د پالیسۍ لنډیز او د مشهورو ورځپاڼو له مقالو ګټه اخیستل شوې ده. دا څېړنه د ډیورنډ فرضي کرښې شخړه، د کرښې په اوږدو کې امنیتي تاوتریخوالی او د اقتصاد په تړاو اړتیاوې راسپړي او پر دې بحث کوي چې دواړه هېوادونه څنګه کولی شي د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو همکاریو لپاره ګډ شرایط ومومي او د خپلو هېوادونو ترڅنګ د سیمې په ثبات کې هم رول ولوبوي. په مقاله کې د پاکستان د امنیتي اندېښنو او پر افغانستان اسلامي امارت یې د تورنو په اړه هم بحث شوی او هم هغه برخې په ګوته شوې، چې د افغانستان او پاکستان د اړیکو پیاوړې کولو لپاره ترې کار اخیستل کېدای شي. څېړنه مومي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اعتماد فضا د جوړولو لپاره له شته فرصتونو څخه په ګټې اخیستنې سره د دوه‌اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا ستر فرصتونه موجود دي. څېړنه ښیي چې دواړه هېوادونه د جیو ستراتیژیک، سیاسي، اقتصادي او نورو ګډو ارزښتونو له مخې اړ دي، چې په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د خپلو ملي ګټو د خوندیتوب په موخه تر خپل منځ ښې اړیکې وپالي.*

***کلیدي کلمې:*** *افغانستان، پاکستان، اسلامي امارت، اقتصادي همکاري، امنیت، اندېښنې، پرمختګ.*

---

*د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت په لومړي سیاسي ریاست کې د هند د ډیسک مسؤول دی.

**سریزه**

افغانستان او پاکستان دوه نږدې ګاونډي هېوادونه دي او سره له دې چې دواړه هېوادونه یو بل سره پر جغرافیې سربیره ګڼ شمېر نور ګډ ارزښتونه لري، خو بیا هم یو له بل سره ډېر کله ښې اړیکې نه دي لرلې؛ بلکې دا دوه‌اړخیزې اړیکې تل له ستونزو سره مل پاتې شوې دي (حسین، ۲۰۲۰).

افغانستان د سړې جګړې په دوره کې د خپل ځانګړي جیوپولیټیک موقعیت له امله د سیمه‌ییز او نړیوال سیاست د معاملو نیابتي مرکز پاتې شو؛ خو د ۱۹۸۰یمې لسیزې پر مهال له افغان جهاد څخه ځینو ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان د خپل ځان په ګټه کار واخیست، حتی تر دې چې د افغان سپېڅلي جهاد له کامیابیدو وروسته یې افغانستان د انارشیزم په طرف ټېل واهه (روبین، ۱۹۹۵). همدا لامل و، چې د نویمې لسیزې په نیمایي کې د طالبانو اسلامي تحریک تر نوم لاندې خوځښت د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې راپورته شو او په هېواد کې یې د قدرت جزیرې او پاټکونه له منځ یوړل، چې په پایله کې یې یو قوي مرکزي حکومت جوړ کړ او په دې توګه یې د هېواد او سیمې امنیت تضمین کړ (کروز، ۲۰۰۹). په تېرو دوو لسیزو کې هم د افغانستان او سیمې د سیاست په برخه کې پاکستان ونه شو کړای، چې د خپلو ګاونډیانو، افغانستان، ایران او هند په ګډون په جنوبي اسیا کې یو معنی داره او د پراخو همکاریو پر بنسټ تعامل وکړي (د اقتصاد استخباراتي واحد، ۲۰۲۰).

د افغانستان اسلامي امارت چې په هېواد د بیا بشپړ واکمنېدو یې نږدې درې نیم کاله کیږي، په دې موده کې له اقتصادي، سیاسي، امنیتي او بهرني سیاست له پلوه خورا ښه روان دی او وتوانید، چې د ګاونډیو په ګډون له سیمې او نړۍ سره غوره او مثبتې اړیکې جوړې کړي (سمیت، ۲۰۲۴)؛ خو لا هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ په اوسني حساس او ورته وخت کې له فرصتونو ډک وخت کې بېلابېلې سیاسي او اقتصادي ستونزې شته دي، چې د حل لپاره یې د پاکستان لخوا د افغان لوري غوښتنو ته جدي پاملرنه نه ده شوې. د دې ترڅنګ، پاکستان د نوییمې لسیزې برعکس دا ځل اسلامي امارت په رسمیت هم نه دی پیژندلی، بلکې یوازې په لنډمهاله یا په ډیفکټو توګه یې پیژندلی، چې لامل یې هم د نړیوالې ټولنې لخوا په ځانګړي توګه د امریکا متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې لخوا فشار بولي چې ګواکې د دوی پر اقتصاد او سیاسي

وضعیت منفي اغز کوي. له همدې امله پاکستان هم له اسلامي امارت څخه د لویدیځې نړۍ د ټول‌شموله حکومت جوړولو غوښتنه بدرگه کوي او هم هڅه کوي چې روسیه، چین او ایران له ځان سره همغږي کړي (حسین، ۲۰۲۲). که څه هم په دې برخه کې د سیمې هېوادونه له پاکستان سره همغږي نه دي. د افغانستان اسلامي امارت سیاسي او اقتصادي اړیکې د هند په گډون د سیمې له هېوادونو سره مخ پر ودې دي او د سیمه‌ییزو پروژو په پلي کولو کې چین، روسیه، ازبکستان او ترکمنستان تر ټولو مخکې دي.

په دې څېړنیزه مقاله کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ تاریخي اړیکې او د اسلامي امارت دویم ځلي واکمنۍ په دوران کې دغو دوه‌اړخیزو اړیکو ته شته ننگونې او فرصتونه په گوته شوي دي. مقاله په تشریحي او تحلیلي مېتود د افغانستان او پاکستان ترمنځ اوسنۍ او راتلونکې اړیکې راسپړي او له ثانوي سرچینو لکه، کتابونو، څېړنیزو مقالو، د پالیسۍ لنډیز او د مشهورو ورځپاڼو له مقالو پکې کار اخیستل شوی.

په مقاله کې لومړۍ د افغانستان او پاکستان د دوه‌اړخیزو اړیکو پر مخینه لنډ بحث شوی او ورپسې یو شمېر هغه فرصتونه بحث شوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د رغولو او باور فضا رامنځته کولو لپاره ترې کار اخیستل کېدای شي. همدا راز هغه ننگونې هم راواړل شوې دي، چې دا دوه‌اړخیزې اړیکې یې له ستونزو سره مخ کړې دي.

**د افغانستان او پاکستان تاریخي اړیکو ته لنډه کتنه**

افغانستان او پاکستان د کلتوري اړیکو، سیاسي تحرکاتو او امنیتي ننگونو له امله یو پیچلی تاریخ لري. د دواړو هېوادونو اړیکې د ۲۶۴۰ کیلومتره اوږدې ډیورنډ فرضي کرښې په درلودلو سره، تل د لوړو او ژورو ښکار شوې دي. د ډیورنډ کرښه، چې په ۱۸۹۳ کال کې د انگریزانو له خوا کښل شوې، یوه جنجالي مسئله ده. د دې کرښې په واسطه وېشل شوي پښتانه د دوه‌اړخیزو اړیکو د اغېزې یو مهم عامل دی (روبین، ۲۰۰۲). سربېره پر دې جگړې نوره هم دغه کړکېچ ته لمن ووهله (سیاکل، ۲۰۰۴).

په ۱۹۹۰ لسیزه کې د طالبانو اسلامي تحریک راڅرگندېدو له پاکستان سره اړیکې بدلې کړې. پاکستان په سیاسي په توگه د طالبانو اسلامي تحریک د راڅرگندېدو ملاتړ وکړ (رشید، ۲۰۰۰).

همدا راز پاکستان یو له هغو دریو هېوادونو څخه و، چې په ۱۹۹٦ کال کې يې د اسلامي امارت لومړنی حکومت په رسمیت وپېژاند.

په ۲۰۰۱ کال کې بیا پر افغانستان د امریکا په مشرۍ نړیوالو ځواکونو له یرغل وروسته، د پاکستان رول نور هم پیچلی شو؛ ځکه په رسمي ډول د په اصطلاح "ترهګرۍ په وړاندې جګړه" کې له متحده ایالاتو سره یوځای شو خو په ورته وخت کې د هغوی له لوري له اسلامي امارت سره د همکاریو تر تورونو هم لاندې و (منصفانه، ۲۰۱۴).

په اوسنۍ دوره کې د اسلامي امارت او پاکستان اړیکې بیا هم دواړه اړخونه لري، یعني د همکارۍ او بې‌باورۍ دواړې ځانګړتیاوې لري (ګویستوز، ۲۰۲۲). د فرضي کرښې مدیریت، اقتصادي ننګونې، او د مهاجرینو بحران پر دوه اړخیزو اړیکو باندې اغیز کړی. له دې کبله یو شمېر داسې فرصتونه شته چې د دغو اړیکو د رغېدو لامل کېدای شي او هم داسې ننګونې شته چې د هڅې په صورت کې پر فرصتونو بدلېدای شي.

**الف: د افغانستان او پاکستان د اړیکو د پراختیا لپاره شته فرصتونه**

په داسې حال کې چې د افغانستان او پاکستان د دوه‌اړخیزو اړیکو پر وړاندې شته ننګونې له کلونو راهیسې پر خپل ځای پاتې دي، خو که دواړه هېوادونه له یو بل سره رغنده ممکنې ښکیلتیا ته لومړیتوب ورکړي، نو د دواړو هېوادونو پر وړاندې خورا زیات فرصتونه هم شته دي.

د افغانستان لپاره، د پاکستان ستراتیژیک موقعیت، نړیوال بازار ته لاس رسی او سیمه‌ییزې همکارۍ کولی شي د پام وړ اقتصادي، امنیتي او پرمختیایي اهدافو ته وده ورکړي. په هرصورت، دا به په سیمه کې د تلپاتې سولې او ثبات د ترلاسه کولو لپاره دوامداره خبرو اترو، د باور جوړونې اقداماتو او د بهرنۍ لاسوهنې کمولو ته اړتیا ولري. دلته له پاکستان سره د افغانستان په اړیکو کې شته فرصتونه راسپړو.

**۱. د سوداګرۍ او ټرانزیټ د پراختیا ظرفیت**

د افغانستان اسلامي امارت له بیاځلي حاکمیت وروسته، خپل بهرنی سیاست د توازن او اقتصاد محورۍ پر بنسټ غوره کړی، او د ملي ګټو او متقابل احترام پر بنسټ يې سیاسي، اقتصادي، او د فرهنګي اړیکو دراوزې د نړۍ پر مخ خلاصې کړې دي (ګویستوز، ۲۰۲۲). دې ته په کتو سره دواړه هېوادونه کولای شي چې د اپټا تړون (APTTA) او افغان ټرانزیټي تجارت

(ATTA) پر مټ دوه اړخیزه سوداګري چې ۲۰۲۳ کې ۱،۸۶ میلیارد ډالر وه، ۵ میلیارد ډالرو ته لوړه کړي (دولتزی، ۱۴۰۲).

همدا راز دواړه هېوادونه کولی شي چې له یادو تړونونو څخه په ګټې اخیستنې د مرکزي اسیا هېوادونه هم په کې شامل کړي، په دې توګه به د سیمې هېوادونو ګټې پر یو بل تکیه لرونکې او مدغم کړل شي، چې دا کار د اقتصادي ثبات پر لور یو اصل دی (کمار، ۲۰۲۱). په سیمه کې افغانستان د ترانزیت د مرکزي هېواد په توګه موقعیت لري، د افغانستان له لارې له منځنۍ اسیا سره د پاکستان د سوداګرۍ په ګډون د نبلولو پروژې د پام وړ اقتصادي ګټې یقیني کولای شي.

پر دې سربیره، سي پیک (د چین – پاکستان اقتصادي دهلیز) او د یو کمربند او یوې لارې نوښت پروژې د بریالیتوب لپاره د افغانستان ثبات مهم دی، ځکه چې افغانستان د منځنۍ او جنوبي اسیا په اوږدو کې پروت دی. دا ډول نوښتونه به د چین، پاکستان او افغانستان تر منځ د درې اړخیزو خبرو اترو په څېر د تاوتریخوالي کمولو او د همکارۍ پر پیاوړتیا تمرکز وکړي (عرفان، ۲۰۲۳).

**۲. د افغانستان او پاکستان تر منځ د سیمه‌ییز امنیت تامینولو فرصت**

د افغانستان او پاکستان تر منځ سیمه‌ییزه امنیتي همکاري نه یوازې د دواړو هېوادونو لپاره، بلکې د جنوبي اسیا د ثبات لپاره یو له خورا ننګونکي او په ورته وخت کې حیاتي اړخونو څخه شمېرل کېږي. د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د امنیتي پېښو له کبله، او جنګیالیو ته د پناه ورکولو او ملاتړ کولو په اړه د دوه اړخیزو تورونو له امله خرابې شوي دي.

په دې برخه کې د افغانستان او پاکستان د ګډې همغږۍ کمیټه (JCC) په شان دوه‌اړخیز میکانیزمونه کولی شي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو ګټو د مهمو مسئلو په ځانګړې توګه امنیت، د فرضي کرښې په اوږدو کې تګ راتګ، سوداګرۍ او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د شخړو د حل په اړه د خبرو اترو او همکارۍ د اسانتیا لپاره په ښه توګه وکارول شي (بیان نیوز، ۲۰۲۴).

د نا امنیو د له منځه وړلو په برخه کې ګډې هڅې په دې شرط چې د دواړو دولتونو ترمنځ باور بیا جوړ شي، سیمه کې ثبات راوستلی شي. د نړیوالو لوبغاړو رول، لکه متحده ایالات او چین، په شخړو کې د منځګړیتوب او د همکاریو په هڅولو کې خورا مهم دی (عمر، ۲۰۲۲).

### ۳. د سیمه‌ییز اتصال د همکاریو په برخه کې فرصت

افغانستان او پاکستان په سیمه‌ییزو سازمانونو کې د یوځای‌والي او پیوستون له لارې د سیمې د ثبات او سوکالۍ د زیاتولو لپاره د پام وړ ظرفیت لري. په څو اړخیزو پلیټ فارمونو کې د افغانستان او پاکستان ګډون په جنوبي آسیا او ور اخوا سیمو کې د مشترکې سولې، امنیت او اقتصادي ودې په ترلاسه کولو کې اهمیت په ډاګه کوي. سیمه‌ییز سازمانونه لکه د سویلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه (SAARC)، د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) او د شانګهای د همکارۍ سازمان (SCO) د افغانستان او پاکستان د همکارۍ لپاره د پلیټ فارمونو په توګه کار کوي.

سارک د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پر پراختیا ټینګار کوي. په دې سازمان کې د افغانستان او پاکستان غړیتوب د غړو هېوادونو تر منځ د تاو تریخوالي له ننګونو سره سره د خبرو اترو او اجتماعي عملونو فرصت برابروي (شاه، ۲۰۲۱).

همدا راز، دواړو هېوادونو په تیرو وختونو کې د اقتصادي همکاریو سازمان یا ایکو (ECO)، په نوښتونو کې برخه اخیستې چې د سوداګرۍ اتصال، د زیربناوو د پراختیا او د سرچینو شریکولو ته وده ورکوي. دا فورم مرکزي او سویلي اسیا سره نښلوي، چې پراخ اقتصادي فرصتونه برابروي (احمد، ۲۰۱۸). د ایکو نوښتونه لکه د ټرانسپورټ (اسلام اباد – تهران – استانبول اورګاډی) او سوداګریز نښلون پروژې د ایکو سوداګرۍ تړون (ECOTA) کولی شي اغیزناک سیمه‌ییز پیوستون ته وده ورکړي (جاوید، ۲۰۱۶).

د ګډو امنیتي اندیښنو په اړه، د شانګهای د همکارۍ سازمان (SCO) له تروریزم سره د مبارزې همکارۍ، سولې جوړونې او اقتصادي ملګرتیا لپاره یو پلیټ فارم وړاندې کوي. دا سازمان د متقابلو ګواښونو او فرصتونو په نښه کولو کې خورا اغیزناک دی (مصطفی، ۲۰۲۰).

له دې کبله په سیمه‌ییزو سازمانونو کې د افغانستان او پاکستان فعال شتون د سولې او سوکالۍ لپاره ملموسې پایلې درلودای شي. که څه هم د دواړو هېوادونو تر منځ تاریخي او سیاسي ننګونې

دوام لري، خو څو اړخیزیزتوب ته ژمنتیا، چې د قوي بنسټیز چوکاټ له ملاتړ څخه برخمن وي، کولی شي په جنوبي آسیا کې د اجتماعي پرمختګ او سیمه‌ییز بشپړ امنیت لپاره لاره هواره کړي.

### ۴. کلتوري او د خلکو تر منځ د اړیکو فرصت

افغانستان او پاکستان ژورې کلتوري، تاریخي او هر اړخیزې اړیکې لري، چې د دواړو هېوادونو په دوه اړخیزو اړیکو رغنده اغیزه کوي. د خلکو تر منځ دا ډول اړیکې چې په ګډو ژبو، دودونو او مذهبي دودونو کې ریښې لري، ډېری وختونه د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او ډیپلوماتیکو بعدونو په جوړولو کې مهم رول لوبوي.

دواړه هېوادونه خپل ګډ کلتوري عناصر د فارس امپراتورۍ، د اسلامي زرین دور، او د پښتونولۍ اصول کوم چې په ټولو قبایلي سیمو کې موندل کیږي، یو له بل سره په ګډه لري. دا تاریخي اړیکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د قوي متقابلو اړیکو بنسټ جوړوي (بخاري، ۲۰۲۲).

همدا راز، د ادبیاتو، سپورټونو او رسنیو له لارې کلتوري تبادله هم د افغانستان او پاکستان د خلکو ترمنځ د اړیکو په جوړولو کې مهم رول لوبوي. د سپورت برنامې، په ځانګړې توګه کرکټ، د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ او سیالۍ لپاره د پلیټ فارم په توګه ښه کار کوي. دا ډول تبادلې د سیاسي تاوتریخوالي په کمولو کې مرسته کوي او د خلکو ترمنځ متقابل احترام هڅوي (عارف، ۲۰۱۴). د افغانستان او پاکستان ترمنځ کلتوري او د خلکو تر منځ اړیکې د هېوادونو د دوه اړخیزو اړیکو یوه مهمه برخه ده. له سیاسي ننګونو او امنیتي اندیښنو سره سره، دا اړیکې د همکارۍ فرصتونه برابروي، په ځانګړې توګه د سوداګرۍ، کلتور او بشري هڅو په برخو کې.

### ب: د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د اړیکو پر وړاندې ننګونې

له کله نه چې پاکستان په ۱۹۴۷م کې رامنځته شوی، د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې تل د یو لړ ننګونو او ستونزو له کبله ترینګلې هم پاتې شوې، چې په دې کې مهم اغیز د ډیورنډ فرضي کرښې دی (خلیلي، ۲۰۲۴). سربیره پر دې، د پاکستان لخوا افغان لوري ته اقتصادي ستونزې او خنډونه ولاړول یوه بله جدي ستونزه ده، چې باید د دواړو هېوادونو چارواکي ورته د حل په موخه پام وکړي. د دې تر څنګ په پاکستان کې د افغان مهاجرینو د وضعیت په اړه چې د دواړو هېوادونو د اړیکو پر وړاندې یوه بله ننګونه ده لاندې جلا جلا بحث کوو.

### ۱. د ډیورنډ فرضي کرښه او د اړیکو ترینګلتیا

د ډیورنډ مسئله اوسنۍ نه ده او نه هم د پاکستان د جوړېدو راهیسې پیل شوې، بلکې دا د پاکستان له جوړېدو څخه مخکې په هند کې له بریتانوي استعماري قوت سره هغه وخت مطرح شوه چې کله په دریم د جون ۱۹۴۷ کې بریتانیا پریکړه وکړه چې هند پریږدي او په دوو ازادو هېوادونو یې تقسیم کړي. همغه وخت افغان حکومت له بریتانوي حکومت څخه د رسمي لیک په واسطه وغوښتل چې د افغانستان اړوند سیمې بیرته افغانستان ته وسپاري (ibid)؛ ځکه ډیورنډ کرښې یو قوم، چې په هر څه کې مشترکات لري، سره جلا کړی او هم د افغانستان د اقتصاد لپاره لویه ضربه ده.

پاکستان تل د هغو چارو چې لومړیتوب لري، لکه اقتصادي همکاري، د انرژۍ پروژې او داسې نورو پرځای د ډیورنډ کرښې مسئله رابرسیره کوي، حال دا چې اسلامي امارت دا کرښه نه په تېره دوره کې او نه هم اوس په دې اړه پرېکړې کولو ته تیار دی، بلکې دا د دواړو خواوو د ولسونو پریکړه بولي (خانتيی، ۲۰۲۲).

### ۲. د فرضي کرښې په اوږدو کې امنیتي ننګونې

د پاکستان او افغانستان ترمنځ د فرضي کرښې په اوږدو کې نښتې ډېر ځله تکرار شوې دي، چې د دواړو هېوادونو اړیکې یې د پام وړ ترینګلې کړې دي. د فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستان لخوا یو اړخیز او په خپلسري توګه اغزن تار لګول د دواړو هېوادونو تر منځ سیاسي اړیکې لا پسې کمزورې کړې دي. دا لانجه د دوه‌اړخیز تاوتریخوالي یوه سرچینه ده (میر، ۲۰۲۳).

د فرضي کرښې په اوږدو کې نښتې د پرله پسې ډیپلوماتیکو غبرګونونو لامل شوې، چې د دواړو حکومتونو ترمنځ بې باوري لا پسې زیاتوي. همدا راز د دې شخړو په دوران کې اکثرا د عبوري لارو د تړلو، د سوداګرۍ او د خلکو ترمنځ ټولنیزې اړیکې او محدودې اقتصادي تبادلې سختې کړې دي، چې د اړیکو د ګډوډولو او ترینګلتیا سبب شوې دي.

### ۳. اقتصادي خنډونه

افغانستان سمندري بندرونو ته مستقیم لاسرسی نه لري، چې له امله یې نړیوالو بازارونو ته د ټرانزیټ لپاره په ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان تکیه کوي. د کراچۍ بندر له تاریخي پلوه د افغان مالونو د ټرانزیټ لوی مرکز و (رحیم، ۲۰۱۸).

که څه هم د سمندر د قانون په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون (UNCLOS) د ۱۲۵ او ۱۲۷ ماده په وچه کې ګیر هېوادنو لپاره اوبو ته د ټرانزیټ د لاس رسي حق ورکوي او هم د تبعیضي محصولاتو، مالیاتو او د ټرانزیټي توکو ځنډول په سختۍ سره منع کوي (لطیف، ۲۰۲۴). د اقتصاد په برخه کې افغانستان او پاکستان پیچلي اقتصادي او سوداګریزې اړیکې لري چې د تاریخي، سیاسي او امنیتي تحرکاتو تر اغیز لاندې دي. په همدې خاطر د افغانستان پر سوداګریزو لارو د پاکستان برلاسي د دې باعث شوې چې زیاتره وخت دا د خپل د قوت ټکی ګڼي.

د پاکستان لخوا پر افغان لوري لوجیسټیکي خنډونه، د عبوري لارو په اوږدو کې ځنډ (د بیلګې په توګه، تورخم او چمن)، او د ټرانزیټ لګښتونو لپاره لوړ فیسونه لګول د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري خورا اغیزمنه کړې (میر، ۲۰۲۳).

افغانستان په دې لټه کې دی چې د بدیل سوداګریز دهلیز په جوړولو سره پر پاکستان تکیه کمه کړي. د ایران (چابهار بندر) او منځنۍ اسیا (د ازبکستان، ترکمنستان له لارې) لارې د پراختیا په حال کې دي (رحیم، ۲۰۱۸). همدا راز د سیمه‌ییز اتصال په برخه کې افغانستان له چین سره د واخان له لارې د اقتصادي دهلیز وصلیدل یوه بله لار ده، چې افغانستان به د چین بازارونو سره مستقیم ونښلوي (یاور، ۲۰۲۴).

د پاکستان لخوا د افغانستان د سوداګرۍ او صادراتو په وړاندې د خنډونو جوړولو سربیره د افغانستان اقتصادي وده د خورا پرمختګ په حال کې ده، په ۲۰۲۲ میلادي کال کې د افغانستان اقتصادي وده منفي ۶،۲۴ سلنه وه، چې دا کچه په ۲۰۲۲ کې ۲،۷ سلنې ته لوړه شوه، چې په همدې موده کې د پاکستان اقتصادي وده په ۲۰۲۲ کې ۴،۷ سلنه او په ۲۰۲۲ کې صفر سلنې ته راښکته شوه (د اسیا پراختیایي بانک، ۲۰۲۳).

### ۴. د افغان کډوالو بحران

د افغان کډوالو کړکېچ د افغانستان او پاکستان پر اړیکو د پام وړ اغېز کړی، چې د لسیزو کلونو بې ځایه کېدو او وروستیو اجباري راستنېدو له امله یې د دواړو هېوادونو اړیکې پیکه کړې دي. د پاکستان د حکومت لخوا د وروستیو تګلارو، چې د بې اسنادو افغانانو د جبري شړلو په اړه دي، دوه اړخیزې اړیکې خړې پړې کولو تر څنګ بشري ننګونې لاپسې زیاتې کړې دي.

د بې پلانه او همغږۍ پرته د کډوالو جبري راستنول د افغانستان محدودو منابعو باندې بوج کيداى شي. راستنېدونکي د ناکافي سرپناه، د خوړو کمښت، او د هوا له سختو شرايطو سره مخ کيږي، چې په افغانستان کې بشري ناورين ته وده ورکوي، په داسې حال کې چې افغانستان لا د مخه د غرب لخوا د اقتصادي بنديزونو سره مخ دی (باهيس، ۲۰۲۳).

د افغانستان اسلامي امارت د پاکستان لخوا د افغان کډوالو د جبري ايستلو پر تګلارې نيوکه کړې، او دا يې بشردوستانه ضد عمل بللی، چې دې څرګندونو د دواړو هېوادونو ترمنځ بې باوري لاپسې ډېره کړې ده (ګلوک، ۲۰۲۳). له دې کبله، پاکستان د اقتصادي او سياسي فشارونو د برلاسي درلودلو تر څنګ د افغان کډوالو بيرته ستنولو تګلاره د اسلامي امارت پر وړاندې د فشار د تاکتيک په توګه کاروي.

**وړانديزونه**

۱. دا چې د ډيورنډ فرضي کرښې پورې غاړه اکثره پښتانه ميشت دي او له بېلابېلو ناخوالو سره مخ دي، اسلامي امارت دې د هغوی د سياسي او مشروع غوښتنو ملاتړ د پاکستان له حکومت سره د خبرو لپاره په خپله اجنډا کې شامل کړي.

۲. د فرضي کرښې دواړو غاړو نښتو د پاکستان او افغانستان اړيکې زيانمنې کړې دي، چې له امله يې د بې اعتمادۍ او نا امنۍ دوره دوام لري. د دغو مسئلو حل کول دوامداره ډيپلوماتيکې ښکيلتيا، د مشروع انديښنو دوه اړخيزه پيژندنه، او نورو برخو کې د ګډو ننګونو په اړه همکارۍ ته اړتيا لري. د اصلي لاملونو په ګوته کولو پرته به، دا نښتې د سيمه‌ييز ثبات او پرمختګ مخه ونيسي.

۳. افغانستان کولای شي چې د يوه ځمکني پُل په توګه جنوبي اسيا له منځنۍ اسيا سره ونښلوي. چې د افغانستان له لارې پاکستان د منځنۍ اسيا بازارونو ته لاسرسی ومومي، په ورته ډول پاکستان افغانستان ته د سيمې له هېوادونو سره د نښلون فرصت برابروي. دغه سيمه‌ييز نښلون هر څومره ژر چې وشي دوه‌اړخيزې اړيکې پياوړې کولی شي ځکه په ټوله کې سيمه پر يو بل تکيه کيږي.

۴. د کډوالو د بحران په برخه کې افغانستان او پاکستان کولی شي چې د نړيوالو ادارو سره په همغږۍ او مرسته د کډوالو د راتګ لپاره خوندي مرکزونه رامنځته او د مرستې په ښه توګه رسولو

کې همکاري وکړي. همدا راز دواړه هېوادونه کولی شي چې د قانوني چوکاټونو او د نړیوالو په ملاتړ سره د کډوالو لپاره په مرحله واره توګه د راستنیدو پروګرامونه رامنځته کړي، دا کار به د دواړو حکومتونو تر منځ درزونه راکم کړي او پر اړیکو د منفي اغیزو ښندلو مخنیوی به وکړي.

**پایله**

د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې د سیمې په کچه یو له تر ټولو پیچلو اړیکو څخه دي، چې د ګډو ننګونو او فرصتونو اوږد تاریخ لري. جغرافیایي نږدېوالی او ژور کلتوري، قومي، او تاریخي تړاوونه د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې نه یوازې د دوی د ثبات لپاره مهم فکتورونه دي، بلکې د سویلي او مرکزي اسیا د امنیت او اقتصادي پرمختګ لپاره هم حیاتي ارزښت لري.

د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د ترینګلتیا یو لوی لامل د ډیورنډ فرضي کرښې ناحل شوې مسئله ده، چې د استعماري تاریخ یوه پاتې‌شونې ده. برسېره پر دې، د یو بل امنیتي اندیښنو داسې یو چاپیریال رامنځته کړی چې ډیپلوماتیکې هڅې یې کمزورې کړې دي.

په ورته وخت کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ لپاره د سترو فرصتونو شتون د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکو ته یو نوی اړخ ورکولی شي. دواړه هېوادونه د اقتصادي یوځایوالي او سیمه‌ییز نښلون څخه زیاتې ګټې اخیستلی شي. د دوی جغرافیوي موقعیت او د ټرانزیټ مرکزونه کولی شي چې سویلي اسیا، مرکزي اسیا، او منځنۍ ختیځ سره ونښلوي.

امنیتي همکاري بله مهمه برخه ده، چې پرمختګ په کې ممکن دی. د فرضي کرښې مدیریت، او د مؤثرو او واک لرونکو همغږۍ کمیټو جوړول، همدا راز، د ترهګرۍ پر وړاندې ګډې هڅې کولی شي ګواښونه کم کړي او اعتماد جوړ کړي.

شک نشته چې یو باثباته او هوسا افغانستان د پاکستان هم په ګټه دی، لکه څنګه چې یو سوله‌ییز او همکار پاکستان د افغانستان د بیا رغونې او ودې لپاره حیاتي دی. د ګډو فرصتونو له شتون څخه د مثبتې ګټې اخیستلو پر مټ دواړه هېوادونه د دې توان لري چې خپلې اړیکې له بې باورۍ او منفي سیالۍ څخه د خپلو خلکو او سیمې په ګټه بدلې کړي.

**سرچينې**


۱. خانتيي، س.(۲۰۲۲). د ډورند کرښې ستونزه: طالبان او پاکستان .د استراليا د نړيوالو چارو انستيټيوټ.

۲. حسين، س.، او لطيف، ډ .م .آی.(۲۰۲۰). له ۱۱/۹ وروسته د پاکستان-افغانستان اړيکو مسايل او چلينجونه .د سويلي آسيا د څېړنو مرکز، ۲۷ (۱).

۳. روبين، ب .ر.، او ارجمند، س .ای. (۱۹۹۵). د افغانستان ټوټه ټوټه کيدل، د دولت جوړولو او سقوط په نړيوال سيستم کې. د سياسي علومو فصلنامه، ۱۱۰(۴)، ۶۶۲-۶۶۳.

۴. کروز، ر .ډي.، او ترزي، ای (ايډز) (۲۰۰۹). طالبان او د افغانستان بحران .د هارورډ پوهنتون خپروني.

۵. د اقتصاد استخباراتي واحد. (۲۰۲۰). د پاکستان هېواد راپور. د اقتصاد استخباراتي واحد. په آنلاين بڼه: https://www.eiu.com

۶. سميت، ګريام. (۲۰۲۴). افغانستان د طالبانو له واکمنۍ درې کاله وروسته. د نړيوال کړکيچ ګروپ. آنلاين: https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/afghanistan-three-years-after-taliban-takeover

۷. حسين، ايي (۲۰۲۲). طالبان او افغانستان-پاکستان اړيکې. د اسيايي امنيت او نړيوالو چارو ژورنال، ۹(۳)، ۴۶۲-۴۷۴.

۸. روبين، بي. ار. (۲۰۰۲). د افغانستان تقسيمول. د ييل پوهنتون خپروني.

۹. سياکل، ای. (۲۰۰۴). معاصر افغانستان: د هڅې او ژونديې پاتې کيدو تاريخ. اي. بي. توريس.

۱۰. رشيد، ای. (۲۰۰۰). طالبان: په منځنۍ اسيا کې وسله وال اسلام، تېل او بنسټپالنه. د ييل پوهنتون پريس.

۱۱. منصفانه، سي. سي. (۲۰۱۴). د پای ته رسيدو جګړه: د پاکستان پوځ د جګړې لاره. اکسفورډ پوهنتون پريس.

۱۲. ګويستوز، ای. (۲۰۲۲). طالبان په جګړه کې. د اکسفورډ پوهنتون پريس.

۱۳. دولتزی، محمد کوثر. (۱۴۰۲). د افغانستان اسامي امارت او هند تر منځ نوې راټوکيدلې اړيکې؛ ايا د ګډو همکاريو ساحې شته؟ د ستراتيژيکو مطالعاتو ژورنال.د بهرنيو چارو وزارت. ۵۹، ۱۵۷-۱۷۱.

۱۴. لطيف،ای. (۲۰۲۴). پاکستان، افغانستان د سرحدي کړکيچونو سره سره د سوداګرۍ تړونونه لاسليک کړل .انادولو. آنلاين:

https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/pakistan-afghanistan-ink-trade-agreements-amid-border-tensions/3177782

۱۵. کمار ایس، ایس.(۲۰۲۱). په وچجه کې ګیر هېوادونو لپاره د UNCLOS عمل: د چابهار بندر او افغانستان د قضیې مطالعه. د سمندري چارو مجله :د هندوستان د ملي سمندري بنسټ مجله، ۱۷(۱)، ۵۸-۷۲.

۱٦. عرفان، ای.، بیګم ایس.، نقوي، ای.، او نوید،ایف (۲۰۲۳). د پاکستان-افغانستان اړیکې :ننګونې او فرصتونه .د ویفاست د تعلیم او ټولنیزو علومو ژورنال، ۱۱(۱)، ۲۴٦-۲۵۵.

۱۷. طاهر، ایم.، او حسین،این (۲۰۲۲). چین، پاکستان او افغانستان :د سیمه ییزې سولې لپاره همکاري .د سویلي آسیا د څېړنو مرکز،۳٦(۱).

۱۸. بیان نیوز، (۲۰۲۴). د افغانستان-پاکستان ګډې همغږۍ کمیټې شپږمې غونډه په اسلام آباد کې ترسره شوه .بیان نیوز. https://bayannews.af/en/2024/01/03/the-sixth-session-of-the-afghanistan-pakistan-joint-coordination-committee-was-held-in-islamabad/

۱۹. عمر، ایم.، جان، ای.، رب، ای. او رمضان،ایم. (۲۰۲۲). د ۱۱/۹ وروسته د پاکستان-افغانستان اړیکې :ننګونې او د همکارۍ هیلې. کثرت فرهنګي تعلیم،۸(۱). ۲۰۵-۱۰.

۲۰. شاه،ای. (۲۰۲۲). اقتصادي دهلیزونه او سیمه ییز امنیت .د نړیوالو مطالعاتو بیاکتنه.

۲۱. احمد،ایي. (۲۰۱۸). "د افغانستان-پاکستان اړیکې: تېر، اوس او راتلونکی". د سویلي آسیا د څېړنو ژورنال.

۲۲. جاوید، یو.(۲۰۱٦). د پاکستان-افغانستان د اړیکو بدلونونو تحلیل :تېر او اوس .د سویلي آسیا د څېړنو ژورنال، ۳۱)۱۰(، ۱۳۷-۱۴۷.

۲۳. مصطفی. جي.، احمد،ایم.، او جُنید،ای. (۲۰۲۰) د افغانستان د سولې په پروسه کې چین او ایران رول. اس ای جي اس آر، ۳(۴)، ۴۲۴-۴۳۲.

۲۴. بخاري، ایف. (۲۰۲۲). افغان کډوال او د پاکستان امنیت او اقتصاد باندې یې اغېز .د اسلام آباد د پالیسیو بیاکتنه، ۱۸(۴)، ۱۰۱-۱۱۵.

۲۵. عارف،ار.، ګولان، جي. جي.، او موریټز،بي. (۲۰۱۴). د منځګړیتوب ډیپلوماتیکې اړیکې :د امریکا او طالبانو اړیکې د پاکستاني رسنیو سره .رسنۍ، جګړه او شخړه،۷(۲)، ۲۰۱-۲۱۷.

٢٦. خليلي، زيډ، سيرت، ای. ایچ، او کليوال، ای این. (٢٠٢۴). د افغانستان-پاکستان سياسي اړيکې (١٩٦٣-٧٣). د امريکا د قانون او سياسي علومو ژورنال، ٣(١)، ٢٨-۴٣.

٢٧. خليلي، زيډ، سيرت، ای. ایچ، او کليوال، ای این. (٢٠٢۴). د افغانستان-پاکستان سياسي اړيکې (١٩٦٣-٧٣). د امريکا د قانون او سياسي علومو ژورنال، ٣(١)، ٢٨-۴٣.

٢٨. مير، ای. اولسن، ار.، او واټکينز، ای. (٢٠٢٣). د افغانستان-پاکستان سرحدي شخړه تودېږي. د امريکا د سولې انستيټيوټ. https://www.usip.org

٢٩. کاوره، وي. (٢٠٢٢). څنګ ته ټيل وهل: د افغانستان او پاکستان په سرحد کې سياسي او نظامي بدلونونه.

٣٠. رحيم، ايس. ای. (٢٠١٨) د افغانستان پر پاکستان تکيه: تجارت، ترانزيټ او په وچه کې ګيرېدو قيمت. د کاردان د اقتصاد او مديريت علومو ژورنال،١(۴)، ١-٢١.

٣١. ياور، ايم. ايي. (٢٠٢۴). د چين د سرک او کمربند په نوښت کې د افغانستان د واخان دهليز سياسي، اقتصادي او جيوپوليتيک رول څېړل. د قانون او بشري مطالعاتو فصلنامه،٣(١).

٣٢. د آسيا پراختيايي بانک (٢٠٢٣) د ٢٠٢٣ کال ته د اسيا پراختيا کتنه: د افغانستان او پاکستان لپاره اقتصادي تازه معلومات. http://www.adb.org

٣٣. باحث، ای. (٢٠٢٣). د پاکستان لخوا د افغانانو پراخ ويستل سيمه ييز امينت ته خطر پيښوي. د نړيوال کړکيچ ګروپ.

٣۴. ګلوک، سي. د پاکستان څخه جبري راستنيدنې د افغانستان بشري بحران ژوروي. [آنلاين]، ٢٠٢٣ .١١ .١٧ .سرچينه :يو اين ايچ سی آر[٢٠٢٣ .١٢ .٢٦].